الصَّوْمُ جُنَّةٌ الحديث

# د مغفرت تحفه

## تحفة المغفرة

روژه ،تراویح ،اعتکاف ، شب قدر ،سرسایه ، زکوة


مرتب: الحاج مولوی عبد الحنان صاحب مدظلهم

فاضل جامعة العلوم الاسلامية علامه بنوري تاون

معاون: احمد یاسین عفاالله عنه

خلیفه مجاز
حضرت حاجی احمد الله صاحب دامت برکاتهم عالیه



مدرسه عربیه اسلامیه جامع مسجد رحماني لښکرګاه، هلمند

الصَّوْمُ جُنَّةٌ الحديث

# دمغفرت تحفه

## تحفة المغفرة

روژه ،تراويح ،اعتكاف ، شب قدر ،سرسايه ، زكوة

مرتب: الحاج مولوی عبد الحنان صاحب مدظلهم
فاضل جامعة العلوم الاسلامية علامه بنوري ټاون

معاون: احمد یاسین عفاالله عنه
خلیفه مجاز
حضرت حاجی احمد الله صاحب دامت برکاتهم عالیه

مدرسه عربيه اسلاميه جامع مسجد رحماني لښکرګاه



www.jamairahmani.org

# دکتاب پېژندنه


دکتاب نوم: د مغفرت تحفه

تالیف: مولوي عبدالحنان صاحب مدظلهم

معاون: احمد یاسین عفا الله عنه

دچاپ شمېر: ۱۰۰۰ ټوکه

دچاپ نیټه: ۹۲ / ۱ /۲۰ طبع دوهم

ویب پاڼه: www.jamairahmani.org

د مدرسه عربیه اسلامیه د مجلس تالیف د غړو تر څارني لاندي وپای ته ورسیدی.


والحمدالله علی ذلک ولافخر



www.jamairahmani.org

# فهرست


| شميره | مضمون | صفحه |
|---|---|---|
| ۱ | دمؤلف مقدمه | ۸ |
| | **دروژې باب** | |
| ۲ | دروژې فرضيت | ۱۱ |
| ۳ | دروژې قدر او قيمت او دهغې صله | ۱۳ |
| ۴ | روژاتيان به پرباب الريان وجنت ته داخليږي | ۱۴ |
| ۵ | روژه درحمت ،مغفرت،اوددوږخ داوره ژغوره دخلاصون ذريعه ده | ۱۵ |
| ۶ | روژې اوتروايح دمغفرت باعث دي | ۱۶ |
| ۷ | دروژې اوقرآن کريم شفاعت | ۱۷ |
| ۸ | روژه پر چا فرض ده؟ | ۱۸ |
| ۹ | د روژې نيت | ۱۹ |
| ۱۰ | دروژې مستحبات | ۲۰ |
| ۱۱ | هغه شيان چي نه روژه په ماتيږي او نه په مکروه کيږي | ۲۰ |
| ۱۲ | هغه شيان چي په هغو سره روژه مکروه کيږي | ۲۲ |
| ۱۳ | هغه شيان چي په هغو سره روژه ماتيږي او فقط قضاء يې سته کفاره نسته | ۲۳ |




www.jamairahmani.org

| | مضمون | صفحه |
|---|---|---|
| ۱۴ | هغه شیان چي په هغوي سره روژه ماتېږي او قضاء او کفاره دواړه لازمېږي | ۲۴ |
| ۱۵ | د روژې د خوړلو کفاره | ۲۵ |
| ۱۶ | هغه عذرونه چي د هغو د وجي روژه نه نیول روا ده | ۲۶ |
| ۱۷ | د روژې مبارکي قضاء | ۲۷ |
| ۱۸ | د روژې فدیه | ۲۸ |
| ۱۹ | د روژه مات د وخت دعاء | ۲۹ |
| ۲۰ | څه ضروري او روزمره پېښېدونکي مسائل | ۳۰ |
| ۲۱ | د غاښ په دوا سره غاښونه پرېولل روژه ماتوي که یا؟ | ۳۱ |
| ۲۲ | د حیض د بندېدو لپاره په روژه کي ګولی خوړل څنګه دي؟ | ۳۱ |
| ۲۳ | د پاکستان څخه یو کس راغی افغانستان ته اختر به څنګه کوي؟ | ۳۳ |
| ۲۴ | هغه کوم عبادات دي چي په روژه کي ثواب لري؟ | ۳۴ |
| | | |




www.jamairahmani.org

| صفحه | مضمون | شمیره |
|---|---|---|
| ۳۵ | د شک روژې د ورځې نیت به انسان څنګه کوي؟ | ۲۵ |
| ۳۶ | آیا د رګ او غوښې په ستنې روژه ماتیږي؟ | ۲۶ |
| ۳۷ | د روژې په آخره کې که اعتکاف فاسد شي؟ | ۲۷ |
| ۳۹ | آیا په قي سره روژه ماته ده؟ | ۲۸ |
| ۴۰ | د شیخ فاني د عمر اندازه څو کاله ده؟ | ۲۹ |
| ۴۱ | په غیبت سره روژه ماته ده که یا؟ | ۳۰ |
| ۴۱ | آیا په وینه ورکولو روژه ماته ده؟ | ۳۱ |
| ۴۲ | د روژې په اخره کې قضایې عمري لمونځ ثبوت لري؟ | ۳۲ |
| ۴۵ | که د روژې په حالت کښې مچ خولې ته ننوزي؟ | ۳۳ |
| ۴۶ | مقیم سړي د روژې نیت وکړي بیا مسافر سو | ۳۴ |
| ۴۷ | د روژې مقصد څه شی دئ؟ | ۳۵ |
| ۴۸ | مشت زني یعني موټ وهل په روژه کښې | ۳۶ |




www.jamairahmani.org

| شمیره | مضمون | صفحه |
|---|---|---|
| | **دتراویح باب** | |
| ۳۷ | د تراويح د لمانځه احكام او مسئلې | ۵۰ |
| | **داعتكاف باب** | |
| ۳۸ | د اعتكاف تعريف | ۵۹ |
| ۳۹ | د اعتكاف شرطونه | ۵۹ |
| ۴۰ | د اعتكاف قسمونه | ۶۰ |
| ۴۱ | ددغو اقسامو حكمونه | ۶۱ |
| ۴۲ | هغه شيان چې د اعتكاف كوونكي لپاره مستحب دي | ۶۲ |
| ۴۳ | هغه كارونه چې معتكف ته يې كول روا دي | ۶۴ |
| ۴۴ | هغه شيان چې اعتكاف كوونكي لره مكروه دي | ۶۷ |
| ۴۵ | هغه شيان چې اعتكاف فاسده وي | ۶۸ |
| | **دشب قدر باب** | |
| ۴۶ | شب قدر او دهغه فضيلت | ۷۱ |
| ۴۷ | دشب قدر تعيين | ۷۲ |
| ۴۸ | دشب قدر مخصوصه دعا | ۷۳ |
| | | |




www.jamairahmani.org

| شميره | مضمون | صفحه |
|---|---|---|
| | دسرسايي باب | |
| ۴۹ | د سر سايي مسائل او حکمونه | ۷۵ |
| ۵۰ | د سر سايي مقدار | ۷۸ |
| ۵۱ | دکوچني اختر په سهار دغه کارونه سنت دي | ۷۹ |
| ۵۲ | داخترو دلمانځه داداء کولو طريقه | ۷۹ |
| | دزکات باب | |
| ۵۳ | دزکات ا ءکولو اهميت او مقام | ۸۳ |
| ۵۴ | دزکات شان داحاديثو په رڼا کښې | ۸۴ |
| ۵۵ | د زکات مسائل او حکمونه | ۸۵ |
| ۵۶ | د زکات مستحقين | ۹۳ |

## دمؤلف مقدمه

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

نحمده ونصلى على رسوله الكريم امابعد قال الله تعالى: شَهۡرُ رَمَضَانَ الَّذِیۡۤ اُنۡزِلَ فِيۡهِ الۡقُرۡاٰنُ الاية.

وقال النبيﷺ مَنْ قَامَ رَمَضَانَ إِيمَانًا وَاحْتِسَابًا، غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ. الحديث

عزتمندو مسلمانانو وروڼو دا يوه کوچنۍ او وړوکې رساله په کومه کښې چې موږ د اللهﷻ په کومک سره تر خپله وسه د روژې غوندې مقدس عبادت په اړه يوڅه مسائل او فضائل راغونډ کړل چې خپله د روژې په باره کښې دي او د هغه عباداتو په اړه دي چې په دغه مياشته کښې تر سره کيږي لکه: **تراويح، اعتکاف، سرسايه، شب قدر، او زکات** خو دا زموږ

په نزد اهم مسائل وه. او بالاستیعاب مو ټوله مسائل او فضائل د طوالت او اوږدوالي په خاطر نه ولیکله ځکه چي اکابرینو او بزرګانو پر هغه تفصیل باندي مستقل تصانیف درلوده نویي ضرورت نه وو چي موږ یي بیا په تفصیل ولیکو. د الله ﷻ څخه دا خواست کوم چي زما او زما د همکار دغه ادنی خدمت په خپل دربار کښي قبول او مقبول کړي. او کومه لفظي یا معنوی خطاء او قصور که په کښي وو هغه د بنده طرف ته منسوب دی ستاسي څخه یي د صحیح اصلاح کولو آرزو ده.

والسلام

العبد الاحقر عبد الحنان خادم

مدرسه عربیه اسلامیه او مسجد العزیز.

. ۱۴۳۳ -۱ -۱۰ محرم الحرام

داړیکو شمیره :۰۷۰۴۹۶۲۱۶۳



www.jamairahmani.org

# د روژې باب



www.jamairahmani.org

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

## دروژې فرضیت

يٰۤاَيُّهَا الَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡا كُتِبَ عَلَيۡكُمُ الصِّيَامُ كَمَا كُتِبَ عَلَى الَّذِيۡنَ مِنۡ قَبۡلِكُمۡ لَعَلَّكُمۡ تَتَّقُوۡنَ ۝١٨٣ (البقرة: ۱۸۳)

**ترجمه:** ای هغه کسانو چي ایمان یې راوړی دی فرض کړی سوېده روژه پر تاسو باندي لکه چي فرض کړی سوې وه پرهغه کسانو باندي چي ترتاسي مخکښي تیر سوي دي ښایي چي تاسي متقیان او پرهیزګاران جوړ سی.

دروژې لفظي معنی ده امساک یعني ځان ساتل او راګرځول او د شریعت په اصطلاح کښي د خوراک او چیښناک او د خپلي ښځي سره د جماع کولو څخه راګرځېدلو ته روژه وایي په دې شرط چي دغه کار به د صبح صادقه څخه د لمر تر لوېدلو پوري وي، او



www.jamairahmani.org

نيت به يي هم د روژې وي .

**صوم:** يعني روژه دهغه عباداتو څخه ده کوم عبادات چي د دين اسلام عمود او شعائر دي او د روژې فضائل بې شميره زيات دي. الله ﷻ د روژ ې د فرضيت حکم و مسلمانانو ته په يوه خاص مثال سره ورکړی دی او د حکم سره يي داسي وفرمايل چي ددې روژې فرضيت يوازي ستاسي سره خاص نه دی بلکي پر تيرو امتونو باندي هم دا روژې فرض کړی سوي وې. ددې څخه د روژې يو خاص اهميت هم معلوم سو .او بل طرف ته د مسلمانانو د زړونو يو قسم تسلي هم وسوله چي روژه که څه هم د مشقت شی دی مګر دا مشقت تر تاسي مخکي پر تيرو امتونو باندي هم راغلی وو، هغوی هم دا مشقت تير کړی وو . او دا طبعي خبره ده چي په يوه مشقت کښي ډير خلګ مبتلا سي نو هغه ييا سپک او خفيف احساسيږي.

تفسير روح المعاني



www.jamairahmani.org

## دروژې قدر اوقيمت او دهغې صله

**اول حديث:** د حضرت ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دی چې نبي کريم ﷺ وفرمايل (دعام قانون موافق) د انسان هر عمل ثواب د لس چنده څخه واخله تر اوه سوه چنده پورې زياتيږي مګر د روژې متعلق د الله جل جلاله ارشاد مبارک دی چې (الصَّوْمُ لِي وَأَنَا أَجْزِي بِهِ) يعني روژه زما دپاره ده او زه خپله دهغې بدله ورکوم خپل بنده ته.(حديث قدسي) نو ګواکې د روژې ثواب تر عامو اعمال صالحه وو ډير زيات دی چې الله جل جلاله څومره وغواړي هم هومره ورکوي. اوبيا نبي کريم ﷺ زيات وفرمايل چې د روژه داره سړي دپاره دوې خوشحالۍ دي.**يوه خوشحالي:** د افطار يعني دروژه ماتې په وخت کښې.او**دوهمه خوشحالي:** دخپل رب او بادار جل جلاله سره د ملاقات او د هغه ودربار ته د حاضريدو په وخت کښې ده. اودروژه داره دخولې



www.jamairahmani.org

بوی الله ﷻ ته د مشکو تر خوشبويي هم زيات خوښ دی. او روژه (په دنيا کښې د نفس او شيطان د حملو څخه د ځان د ساتلو د پاره او په آخرت کښې د دوږخ د اور څخه د ځان ساتلو د پاره) يو سپر دی. لهذا که په تاسي کښې ديو چا روژه وي نو هغه ته پکار ده چي بېهوده او فحش خبري ونه کړي او که چيري يو بل څوک هغه ته ښکنځل وکړي يا د هغه سره وجنګ کولو ته تيار سي نو دغه روژاتي سړی دي ورته وو ايي چي زما روژه ده .

## روژاتيان به پر باب الريان وجنت ته داخليږي

**دوهم حديث:** د حضرت سهل ابن سعد رضي الله عنه څخه روايت دی چي نبي کريم ﷺ وفرمايل د جنت په دروازو کښې يوه دروازه ده کومي ته چي باب الريان ويل کيږي پر دغه دروازه به د قيامت په ورځ فقط دروژې نيوونکو



www.jamairahmani.org

کسانو داخلیدل وي د دوي څخه ماسوا دبل هیڅ چا داخلیدل پر هغه دروازه نسته اوپه هغه ورځ به یو اعلان وسي چي کمه دي هغه بنده ګان چي دالله ﷻ دپاره یي روژې نیولې اوتنده او لوږه به یې برداشتولې نو پر دغه آواز باندي به هغوی راروان سي کله چي دوی دهغې دروازې څخه و جنت ته ورسیږي نوبیابه دغه دروازې بندي کړی سي او د نورو کسانو داخله به بیا نه وي باندي . رواه البخاری ومسلم

## روژه درحمت ،مغفرت ،اوددوږخ داوره څخه دخلاصون ذریعه ده

**دریم حدیث:** دحضرت سلمان فارسي ﷺ څخه روایت دی چي نبي کریمﷺ به صحابه کرام ﷺ د شعبان یعني برات د میاشتي په آخره کښي په اهتمام سره راجمع کړل او په خپل خاص خطاب سره به یي د دغي میاشتي په عظمت اوفضیلت سره دوي اګاه او



www.jamairahmani.org

خبر کړل او وبه يي فرمايل. چي په دغه مبارکه مياشته
کښي د الله جَلَّ جَلَالُهُ رحمت خداوندي پر جوش باندي
راځي. او په دغه مياشت کښي يوه شپه **(شب قدر)**
داسي ده چي تر زرو مياشتو هم بهتره ده. په دغه
مياشت کښي دنفلونو ثواب په غير رمضان کښي
دفرضو د اداء کولو برابر دی. او په دغه مياشت کښي
يو فرض اداء کول په غير رمضان کښي د اويا فرضونو
د اداء کولو سره برابر اومساوي دی، د دغي مياشتي
اولي لس ورځي د رحمت دي. او د مينځ لس ورځي يي
دمغفرت اوبخښني دي. او آخري لس ورځي يي د دوږخ
د اوره څخه دخلاصون دي. راوه البيهقی

## روژې اوتروايح دمغفرت باعث دي

**څلورم حديث:** د حضرت ابوهريرة رَضِيَ اللهُ عَنْهُ څخه روايت
دی چي نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل چي کوم کسان د روژې
دمياشتي روژې د ايمان په حالت کښي اونيت يي هم



www.jamairahmani.org

دثواب وي ونيسي دهغوتېوله تيرسوي ګناهونه معاف کيږي.همداشان کوم کسان چي دايمان اودثواب دنيت سره دروژې په شپوکښي دنفلي لمونځونو (تراويح اوتهجد دلمانځه)اهتمام وکړي د دوی هم تير سوي ټوله ګناهونه معاف کيږي. همداشان چي کوم کسان دشب قدر په شپه کښي د ايمان او د ثواب د اميد په نيت نوافل او عبادات وکړي الله ﷻ به د دوی هم تير سوي ګناهونه معاف کړي. رواه البخاري ومسلم

## دروژې اوقران کريم شفاعت

**پنځم حديث:** دحضرت عبدالله ابن عمر رضي الله عنه څخه روايت دی چي نبي کريمﷺوفرمايل روژه اوقرآن کريم به دواړه د الله ﷻ په حضور کښي دبندګانو سفارش کوي روژه به عرض وکړي چي ای زما ربه ما دغه بنده د خوراکه او چيښاکه او دنفس دخواهشاتو دپوره کولو څخه منع کړی وو نن زما سفارش او



www.jamairahmani.org

شفاعت دده په حق کښي قبول کړي. او قرآن کريم به
وايي چي اى الله ﷻ ما دغه بنده دشپې دخوب او
ارام څخه منع کړى وو خدايه نن زما شفاعت دده په حق
کښي قبول کړې . الحديث

## روژه پر چا فرض ده؟

١ روژه پر هر مسلمان، عاقل،بالغ، جوړ، نر او
ښځي باندي فرض ده.

٢ هر څوک چي د روژې د فرضيت څخه انکار وکړي
هغه کافر دى.

٣ کوم کس چي دغه فرض نه کړي اداء بيله عذره دا
سخت اولوى ګناهګار او فاسق دى.

٤ کله چي نا بالغه ماشومان د روژې د نيولو قابله
سي، نو پر هغو باندي د هغو د همت او د برداشت په
اندازه سره روژې نيول پکار دي او کله چي د لسو کلو
سي، نو لږ څه سختي پکار ده.

ردالمحتار، عالمګيري، بحرالرائق، موسوعة



www.jamairahmani.org

# د روژې نیت

❶ د زړه ارادې ته نیت ویل کیږي که په ژبه څه تلفظ وسي، او که ونه سي نیت د روژې لپاره شرط دی نیت کول په عربي ژبه ضروري نه دی په خپله ژبه یې هم نیت شخص کولای سي. عربي الفاظ یې دغه شان دي:

وَبِصَوْمِ غَدٍ نَّوَيْتُ مِنْ شَهْرِ رَمَضَانَ ط

ترجمه: زه د روژې د میاشتي د سبا ورځي د روژې نیت کوم.

❷ د روژې د میاشتي د روژو نیت د شپې څخه کول افضل کار دی او که چا د شپې څخه نیت ونه کړی نو د ورځي یې هم نیت صحیح دی تر زوال یو نیم ساعت مخکي په دې شرط چي خوراک او چیښاک او صحبت به یې نه وي کړی. ردالمحتار، عالمګیري ،بحرالرائق ،موسوعة



www.jamairahmani.org

## دروژې مستحبات

مستحبات د روژې هغه کارونه دي چي د هغوی کول د ثواب د زیاتوالي سبب دي.

اول: پیشلمی کول. دوهم: د شپې څخه د روژې نیت کول.

دریم: پیشلمی د شپې په اخیره کښي کول په دې شرط چي د صبح صادق څخه د مخه فارغه سي. څلورم: په روژه مات کښي تلواره کول په دې شرط چي د لمر د نه لوېدو شبه پاته نه سي. پنځم: په خرما یا اوبو سره روژه ماتول. شپږم: د غیبت او بنکنځلو وغیره څخه ځان ساتل.

## هغه شیان چي نه روژه په ماتېږي او نه په مکروه کېږي

❶ مسواک وهل. ❷په غوږ کښي اوبه اچول یا



www.jamairahmani.org

خپله په کښې ننوتل. ۳ په سترګه کښې دوا اچول یا سترګي تورول. ۴ د غاښو وینه په دې شرط چي حلق ته ولاړه نه سي. ۵ احتلام یعني د شیطان خطاء ابستل په خوب کښې. ۶ خود بخوده قی راتلل. ۷ په حلق کښې بېله اختیاره دود یا د ګرځ ننوتل یا د مچ ننوتل چي تیر نه سي. ۸ هر قسمه ستن (پېچکاري) لګول که د رګ وي که د غوښې وي، البته د طاقت لپاره ستن لګول کراهیت لري. ۹ د ګرمی یا د تندي د وجي غسل کول یا یو تهوکر لندول ځان په کښې پېچل. ۱۰ سر یا برېتونه غوړول په تیلو یا په روغنو. ۱۱ خوشبو بویول یا لګول. ۱۲ په هیره سره یوشی خوړل.

ردالمحتار، عالمګیري، بحرالرائق، موسوعة، فتاوی دیوبند، دروژې مسائل: تالیف مفتي انعام الحق صاحب ص ۶۳



www.jamairahmani.org

# هغه شيان چي په هغو سره روژه مکروه کېږي

١ د غاښنو په دواء سره يا په منجن يا کولا يعني د مد مال سره غاښونه صفا کول. ٢ په خوله کښي ناړي يوځای کول او بيا قصدا تېرول. ٣ دومره کار کول چي د هغه څخه دومره قدر کمزوري پيدا سي چي د روژې نيولو طاقت د لاسه ورکړل سي. ٤ بېله ضرورته يو شی ژوول او بيا توکل مالګه يا يو بل شی څکل اوبيا توکل. ٥ ټوله ورځ د جنابت په حالت کښي داسي اوسېدل چي لمونځونه يي هم قضاء سي. ٦ دخولې او پزي په پرېمينځلو کښي ډېره مبالغه کول. ٧ د استنجآء په وخت کښي پښې ډېري فراخه کول اوبيا کښيناستل. ٨ غيبت اوښکنځل وغيره کول. ٩ د ډيري بې قراری اظهار کول.

ردالمحتار، عالمګيري ،بحرالرائق ،موسوعة، فتاوی ديوبند



www.jamairahmani.org

## هغه شيان چي په هغو سره روژه ماتېږي او فقط قضاء يې سته کفاره نسته باندي

❶په قصداً سره ډکه خوله قی وهل. ❷تر صبح صادق وروسته خوراک کول په دغه نيت چي شپه لا پاته ده. ❸په هېره سره يې خوراک يا چيښاک وکړی او دا فکر يې وکړی چي اوس خو روژه ماته سوه بيا په قصد سره خوراک يا چيښاک کول. ❹په زکام او نزله کښي داسي تېزه دواء کشول يا بوی کول چي د هغې تېزي بالکل و دماغ ته ورسېږي لکه تېز ويکس (VICKS)يا بله دواء. ❺پزه يې پرېوله يا يې خوله پرېوله بيله ارادې يې حلق ته اوبه ولاړې. ❻که يې روژه ماته کړه په دغه گمان سره چي لمر لوېدلی دی او حال دا چي هغه نه ؤ لوېدلی. ❼پزي يا غوږ ته لنده يا بهېدونکې دوا اچول لکه تيل يا غوړي او که چيري دوا وچه وه تر څه وخته چي دماغ ته ونه رسېږي روژه



www.jamairahmani.org

نه ده ماته. ❽ د ښځي سره په لمس يعني لاس وهلو يا ساتـ تيرولو سره يې انزال وسو يا د مشت زنی (يعني موټ وهلو) څخه انزال سي روژه ماته ده. ❾ د ګربتی يا د سګرېټ يا چيلم دود په قصد سره وحلق ته رسول. ❿ قی ورته راغی قصداً يې تير کړی. ⓫ يا يې قصداً ډکه خوله قی ووهی. ⓬ د شګي يا د خرما د مندکي يا دکاغذ ټوټه يې قصداً تيره کړه . ⓭ يوچا په زوره يوشی په خوله کښيې ورواچوی او ځيني تير سو.

ردالمحتار، عالمګيري، حرالرائق، موسوعة

## هغه شيا ن چي په هغوی سره روژه ماتېږي او قضاء او کفاره دواړه لازمېږي

❶ په قصد سره خوراک او چيښاک کول. ❷ د خپلي ښځي سره قصداً همبستري او صحبت کول ❸ په قصد سره سګرېټ ببړی يا چيلم څکول.

ردالمحتار، عالمګيري ،بحرالرائق ،موسوعة، فتاوی ديوبند



www.jamairahmani.org

## د روژې د خوړلو کفاره

که د چا څخه قصدًا روژه وخوړه سوه نو کفاره يې د دري شيانو څخه يو شی دی:

❶ دوې مياشتي مسلسل او پرله پسې روژې نيول په مابين کښي به يې ايام منهيه نه وي (يعني هغه ورځي چي روژه نيول پکښي منع وي).

❷ که يې د روژې طاقت نه درلودی نو دي شپېتو مسکينانو ته د سهار او ماښام ډوډی ورکړي په ماړه نس سره.

❸ که دغه کار هم مشکل ؤ نو دي احتياطًا نيم من غنم يا نيم من اوړه يا د هغه قيمت د شپېتو مسکينانو څخه و هر يوه ته جلاجلا ورکړي ټوله کفاره په يوه ورځ و يوه مسکين ته ورکول جواز (روايښت) نه لري.

ردالمحتار، عالمگيري ،بحرالرائق ،موسوعة، فتاوی ديوبند



www.jamairahmani.org

# هغه عذرونه چي د هغو د وجي روژه نه نيول روا ده

❶ كه چيري انسان دومره اندازه مريض وي چي روژه نيول تاوان ورته كوي يعني مريضي يې زياتېږي يا په ځنډ سره ښه كېږي يا د مرګ خطره وي نو روژه دي نه نيسي، هر كله چي جوړ سو نو دي قضاء راوړي او دغه حكم به يو ديندار مسلمان ماهر ډاكټر وركوي چي تا ته روژه نيول تاوان كوي.

❷ مسافر شرعي ته چي د خپل ښار د حدودو څخه كم تر كمه اته ثلويښت ۴۸ ميله د سفر په نيت د كوره څخه وتلى وي د داسي كس لپاره هم د روژې خوړلو اجازه سته، ليكن كه چيري په سفر كښي تكليف او مشقت نه وي روژه نيول افضل كار دى.

**نوټ**: اته ثلويښت ميله د نن سبا په جديد حساب سره اته اويا ۷۸ كيلو ميتره كيږي.



www.jamairahmani.org

٣ هر هغه ښځه چي حامله وي او روژه نیول دې ته په خپله یا یې ماشوم ته تاوان کوي هرګز دي روژه نه نیسي وروسته دي قضاء راوړي. ردالمحتار، عالمګیري، بحرالرائق، موسوعة، فتاوی دیوبند

# د روژې مبارکي قضاء

١ که د یو عذر له وجي روژه قضاء سوه نو د هغه عذر تر ختمېدلو وروسته دي ژر تر ژره د روژې قضاء راوړل سي ځکه چي په ژوند باور نسته.

٢ د روژې په قضاء کښي بنده ته اختیار دی که یې پرله پسي نیسي یا یې جلا جلا نیسي.

٣ نا بالغه ماشوم که چیري روژه ماته کړي نو د ده پر ذمه د دغې روژې قضاء نسته.

٤ مسافر که د سفر څخه وروسته او مریض تر صحت وروسته دومره وخت نه کړي پیدا چي په هغه وخت کي



www.jamairahmani.org

هغه قضاء سوي روژې را وګرځوي نو د دوي پر ذمه د دغو روژو قضاء نسته او نه يې فديه ورکول واجب ده. ردالمحتار، عالمګيري، بحرالرائق، موسوعة، فتاوى ديوبند

# د روژې فديه

١ که يو کس دومره مريض سي چي نور د ده څخه د صحت او جوړېدو الي اميد ختم سي او نه يې طاقت وي د روژې يا دومره سپين ږيرى سي چي نه په ژمي او نه په ګرمى کښې د روژې د نيولو طاقت لري، نو داسي کسانو ته د روژې د نه نيولو اجازه سته ليکن د روژې فديه ورکول واجب ده.

٢ د فديې تر اداء کولو وروسته يې که چيري طاقت د روژې نيولو پيدا کړى يا مريض ؤ جوړ سو نو د خوړلو روژو قضايي را ګرځول واجب ده، او کومه فديه چي ده اداء کړې وه هغه خيرات سوله الله ﷻ يې ثواب



www.jamairahmani.org

ورکوي.

❸ د هرې روژې په بدل کښې به يوه مسکين ته د سهار او مابنام په ماړه نس ډوډۍ ورکوي يا د سر سايې په اندازه يوه کيلو او شپږ سوه دوشپيته ګرامه (۶۶۲) ګرامه غنم ورکړي مسکين ته چې احتياطاً مور او تاسي نن سبا نيم من ورکوو .

❹ که يو څوک دومره غريب وي چې فديه هم نسي ورکولای نو د الله ﷻ څخه دې بخښنه غواړي او دا نيت دې وساتي چې هر کله الله ﷻ فراخي راوستله نو فديه به اداء کومه. ردالمحتار، عالمکيري ،بحرالرائق ،موسوعة، فتاوی ديوبند

## د روژه مات د وخت دعاء

د روژه مات په وخت کښې دغه دعاء کول سنت ده :

اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ لَكَ صُمْتُ وَبِكَ اٰمَنْتُ وَعَلَيْكَ
تَوَكَّلْتُ وَعَلٰى رِزْقِكَ اَفْطَرْتُ ط



www.jamairahmani.org

ژباړه: اې الله ما روژه نیولې وه ستا لپاره اوپرتامې ایمان راوړی دی او پرتامی تکیه کړې ده، او ستا په راکړي رزق مې ماته کړه.

## څه ضروري اوروزمره پېښېدونکي مسائل

د غاښ په کښلو روژه ماتېږي که یا؟

سوال: د غاښ په کښلو سره روژه ماتېږي که یا؟

جواب: که چیري ډېر زیات ضرورت وي نو د غاښ په کښلو سره روژه نه ماتېږي په شرط د دې چې و حلق ته وینه ولاړه نه سي او تېره نه سي او که وینه تیره سي نو روژه ماته ده خو بیا هم بهتره داده چې د روژې په حالت کښې غاښ ونه کښل سي.

عامة الکتب وفتاوای علمآء مسلک دیوبند،
دروژې مسائل: تالیف مفتي انعام الحق صاحب.



www.jamairahmani.org

## د غاښ په دوا سره غاښونه پرېولل روژه ماتوي که يا؟

سوال: د غاښو په دوا سره په برش سره غاښونه پرېمينځل روژه ماتوي که يا؟

جواب: د غاښو دواء د روژې په حالت کښي استعمالول مکروه ده البته که چيري حلق ته ولاړه روژه ماته او فاسده ده. وکره ذوق شئ ومضعه بلا عذر

(شامي ج ۲ ص۲۱۶)

## د حيض د بندېدو لپاره په روژه کي ګولی خوړل څنګه دي؟

سوال: د روژې مبارکي په مياشت کښي بعضي ښځي دوا او ګولۍ خوري د حيض او دې ته چي په مياشت کي هر څو ورځي وينه راتله د هغې ويني د بندولو لپاره او بيا فخر هم کوي چي موږ خو د روژې د مياشتي ټولي روژې ونيولې آيا دغسي طريقه اختيارول روا ده



www.jamairahmani.org

که یا؟

جواب: حیض او وینه راتلل ښځې ته دا یوفطري او خلقتي عذر دی چې د الله ﷻ له طرفه ښځه د ښځې په ذات کښې اېښودل سوی او اخښل سوی دی او بل دا چې الله جل شانه و دوي ته د روژې د خوراک رخصت ورکړی دی او دا یو قسم احسان او خیرات دی، نو خامخا سر زوري کول د جدید دوایانو استعمالول چې اکثریت یې معلومې نه دي چې د څه شي څخه جوړېږي هغه خوړل دا یو قسم عمل دی چې عقل سلیم یې نه قبلوي، باقي شرعًا علماؤ لیکلي دي که چیري دا د ویني بندول د دوا په ذریعه سره و صحت ته د ښځې تاوان نه رسوي، نو بیا یې خوړل روا دي، او که چیري وصحت ته تاوان رسوی، نو بیا یې خوړل ناروا دي البته د جواز په صورت کښې یې روژه صحیح ده.

ستاسي مسائل او دهغه حل حضرت مولانا یوسف لدهیانوي رح



www.jamairahmani.org

# د پاکستان څخه یو کس راغی افغانستان ته اختر به څنګه کوي؟

سوال: یو کس په پاکستان کښي دی هلته یوه ورځ وروسته تر افغانستان میاشت لیدل کیږي، اوس هغه سړی که دلته راسي روژې یې کمیږي آیا داسړی د افغانستان د خلکو سره اختر کړي که یې نه کړي؟

جواب: هغه کس چي روژه یې په پاکستان کښي شروع کړه بیا دلته راغی، دئ دي د افغانستان د خلکو سره اختر کړي هغه پاته روژې دي وروسته تر اختر ونیسي قضاء دي راوړي، مګر برعکس د دغه که د دې ځای سړی هلته ولاړ سي او هغه خلک دېرش پوره کړي د ده روژې خو یو دېرش کیږي، نو ده ته د اختر د جوړولو او د روژې د خوړولو اجازه نسته بلکه یو دېرشمه روژه دي هم ونیسي د دوئ سره دي په اتفاق اختر کړي.

(۴۰۰ مسائل ص ۲۲۲)



www.jamairahmani.org

# هغه کوم عبادات دي چي په روژه کي ثواب لري؟

سوال:د روژې مبارکي د میاشتي په شپو او ورځو کښي هغه کوم عبادتونه دي چي د نبي کریمﷺ له طرفه څخه و امت ته د هغه عبادت د کولو ډېر تاکېد او زور راغلی وي چي دغه عبادت تاسي په دغه میاشت کښي ډېر کوی ځکه چي عبادات خو ډېر دي؟

جواب: زیات ترغیب په احادیثو کي ❶ د تراویح ❷ اودقرآن کریم د تلاوت ❸ د تهجد د لمانځه ❹ او د صدقې او د خیراتونو راغلی دغه اعمال باید ډېر په روژه کښي وسي او علاوه د دغه څخه ذکر او استغفار هم باید وسي.



www.jamairahmani.org

# د شک روژې د ورځي نیت به انسان څنګه کوي؟

سوال :دشک روژې د ورځي نیت به انسان څنګه کوي او دا روژه نیول مکروه ده که یا؟ او د شک روژې ورځ په کوم تاریخ ده؟

جواب :د برات د میاشتي دېرشم تاریخ ته د شک روژې ورځ وائې چي دا نه ده معلومه چي برات دی که یا ځکه کېدلای سي چي د روژې میاشت نوېشت ۲۹ شپې وي او نه دا معلومه ده چي د روژې ورځ ده، کېدای سي د برات میاشت دېرش شپې وي.
اول صورت :که چا د شک په ورځ خوراک اوڅیښاک وکړی وروسته معلومه سوه چي نن د روژې اوله ده نو پرده لازمه ده چي په پاته ورځ کښي څه شی ونه خوري اووروسته تر روژې به یې قضا هم کوي.
دوهم صورت : که چیري یوچا د شک په ورځ په دغه



www.jamairahmani.org

نيت روژه ونيوله چي نن دروژې اوله ورځ ده اوبيا
معلومه سوه چي روژه نه ده نو هغه روژه هيڅ صحيح نه
ده . (بهشتي زيور حصه ۳ص۴ شرح الوقاية ج ۱ص ۳۰) ردالمحتار،
عالمګيري، بحرالرائق، موسوعة، فتاوی ديوبند، دروژې مسائل : تاليف
مفتي انعام الحق صاحب)

## ايا د رګ او غوښي په ستني روژه ماتيږي؟

سوال: ❶ هغه ستني (Injection) چي ډاکټران صاحبان په غوښه کښي يا په رګ کښي لګوي مريضانو ته روژه په ماتيږي که يا ؟ او که د رګ او د غوښي فرق سته وضاحت وکړئ ❷ همدغه شان د سيرم په لګولو سره روژه ماتيږي که يا ؟

جواب: چي د عذر له وجي لکه مريضي او ناجوړي چي وي په هيڅ قسم ستني سره روژه نه ماتيږي که د رګ وي که د غوښي وي د دوارو يو حکم دی مريض ته: همداغسي سيرم لګول مريض ته، البته هغه ستني او



www.jamairahmani.org

سیرم چي د طاقت حاصلولو لپاره لګول کېږي د هغې
په لګولو سره روژه مکروه کېږي، د پاکستان او مصر
او سعودي او هندوستان خصوصاًد علماء دیوبند
فتوٰی همدغه ده ځکه چي د ډاکټرانو د تحقیق له نظره
د د غو ستنو دوا و دماغ او جوف بطن ته براه راست نه
ځي بلکي په انجکشن (Injection) سره دواء بدن ته
رسول کیږي نه په منفذ سره دا داسي دي لکه د غسل
اثر یا دیوزهر جن حیوان د چیچلواثر چي په هغه سره
بالاتفاق روژه نه ماتیږي . ردالمحتار ، عالمګیري ، بحرالرائق،
موسوعة ، فتاوی دیوبند ، دروژې مسائل : تالیف مفتي انعام الحق صاحب
ص ۳۷

## د روژې په اخره کي که اعتکاف فاسد شي؟

سوال: یو چا د روژې د میاشتي په اخیري لسو شپو
کښي اعتکاف شروع کړی او بیا یي په مابین کښي
پرېښودی بیله عذره یا د عذر پر بنا، نو قضاء یي ستله



www.jamairahmani.org

که یا ؟

جواب: په دې باره کښې د علماؤ او فقهاؤ درې قوله دي:

❶ چونکه داعتکاف کول سنت عمل دی که چا پرېښودی قضاء یې نسته ځکه چې قضاء د واجب یا د فرضو سته لیکن د داسې کس د بد نصیبۍ لپاره دا کافي ده چې د داسې لوی دولت او ثوابه څخه محرومه سو. ❷ نفل هم په شروع کولو سره لازمېږي او چونکه د هرې ورځې اعتکاف مستقل عبادت دی په کومه ورځ چې یې اعتکاف فاسد کړی فقط د هغې ورځې قضاء سره تر روژې نیولو سته، اکثرو علماؤ دا مذهب اختیار کړی دی. ❸ دغه کس د لسو ورځو د اعتکاف کولو عزم او الزام پر ځان کړی ؤ او پوره یې نه کړی، نو د ټولو لسو ورځو اعتکاف به کوي دا د ابن همام رحمه الله علیه رایه ده والله اعلم. (ستاسو مسائل او دهغه حل حضرت مولانا یوسف لدهیانوي رحمه الله علیه ج ۳ ص ۳۱۸)



www.jamairahmani.org

# ايا په قي سره روژه ماته ده؟

سوال: په قي سره روژه ماته ده که يا؟ زما يو ملګرى دى هغه وايي چي په قي سره روژه ماتيږي؟

جواب: د فقهاؤ په نزد د قي ډېر صورتونه دي خو صرف په دوه صورته کي روژه ماتيږي په باقي سره نه ماتيږي:

❶ په قصد سره يې قى ووهى او ډکه خوله يې ووهى که يې تېر کړى او يا يې نه کړى تېر روژه ماته ده.

❷ بې اختياره يې قى ووهي او ډکه خوله راغي که چيري ده په قصد سره تېر کړى که يو څه لږ هم وي، نو يې روژه ماته ده او صرف قضاء سته کفاره نسته، او که بې اختياره ځيني تېر سو نو روژه نه ده ماته.

ردالمحتار، عالمګيري، بحرالرائق، موسوعة، فتاوى ديوبند،
دروژې مسائل: تاليف مفتي انعام الحق صاحب ص ١٦٠



www.jamairahmani.org

## د شيخ فاني د عمر اندازه څو کاله ده؟

سوال: د شيخ فاني د عمر اندازه په شريعت کښي مقرره ده که يا؟ که نه ده مقرره شيخ فاني څه ته ويل کېږي؟

جواب: دومره ضعيفه او کمزوری سپين ږېری چي د روژې د نيولو څخه مستقل معذوره او عاجزه وي سرو کال په يوه موسم کښي هم د روژې د نيولو قدرت نه لري ده ته د روژې د خوړولو اجازه ده د هري روژې په بدل کښي به د صدقة الفطر په اندازه يعني احتياطا نيم من غنم به مسکينانو ته ورکوي، او دا فديه که د روژې د مياشتي په اوله کښي اداء کړي يا په اخره کښي دواړي طريقې صحيح دي که چيري د فديې تر اداء کولو وروسته ده د روژې د نيولو قدرت پيدا کړی، نو هغه اداء کړي فديه يې نفلي خيرات سوه د خوړلو روژو قضاء به راوړي.

نوټ: ټوله فديه پر يوه مسکين او يوه فديه پر ډېرو



www.jamairahmani.org

مسکینانو هم تقسیمولای سي. ردالمحتار، عالمګیري، بحرالرائق، موسوعة، فتاوی دیوبند، دروژې مسائل: تالیف مفتي انعام الحق صاحب ص ۱۳۲کتاب الفقه علی المذاهب الاربعة ج ۱ ص ۵۶۷

## په غیبت سره روژه ماته ده که یا؟

سوال: په غیبت کولو سره روژه ماتېږي که یا ؟ او که یې پر ثواب څه اثر پرېووځي؟

جواب: غیبت، چغلي، درواغ، بهتان، تهمت، بنکنځل، تکلیف ورکول یو چاته دا کارونه هر وخت حرام او ناروا دي مګر روژاتي انسان لره ددې شیانو بد والی یو په دوه دی بهر حال روژه نه ماتېږي لیکن سخته مکروه کېږي کېدای سي چي اجر او ثواب یې ختم سي. ردالمحتار، عالمګیري ،بحرالرائق ،موسوعة، فتاوی دیوبند ،دروژې مسائل: تالیف مفتي انعام الحق صاحب ص ۱۵۳

## ایا په وینه ورکولو روژه ماته ده؟

سوال: که یو څوک یو مریض عاجل ته په روژه کښي



www.jamairahmani.org

وینه ورکړي آیا روژه یې ماته ده که یا ؟ او که ماته ده نو صرف قضاء سته او که کفاره و قضاء دواړه سته ؟

جواب: د وینو په ورکولو سره روژه نه ماتېږي نه قضاء سته او نه کفاره. فتاوی دیوبند، بدائع الصنائع ج ۲ص ۹۳ البحر الرآئق ج ۲ص ۴۷۶ ص دروژې مسائل : تالیف مفتي انعام الحق صاحب ص ۸۰

## د روژې په اخره کي قضايې عمري لمونځ ثبوت لري؟

سوال: ځیني کسان د روژې مبارکي په اخري جمعه کښي قضائې عمري لمونځ کوي او هر لمونځ په اذان او اقامت سره کوي او دا عقیده لري چي په دغه یوه هفته لمونځو سره د ټوله عمر قضاء سوي لمونځونه اداء کېږي، او څوک چي یې نه ورسره کوي هغه هم ملامت کوي، دغه قضائي عمري د شریعت د نګاه څخه څنګه عمل دی؟



www.jamairahmani.org

جواب: د داسي عمل او عقيدي ثبوت قطعًا په شريعت کښي نسته قضايئ عمرى فقهاوو بدعت عمل ګڼلى دى ددې هيڅ اصل په شريعت کښي نسته. شرعًا د هر قضاء سوي لمانځه قضاء مستقل او لازمي عمل دى، دا د شرعي دلائلو خلاف عمل دى د داسي عمل نه کوونکي تهديدول او هغو ته ګناهګاره ويل خپله سخته ګناه ده. په مروجه قضايئ عمري کښي د بدعت څخه علاوه نور ډير مفاسد دي: مثلاً خلګ دغه لمونځ په دغه عقيده باندي کوي چي په دې سره د ټول عمر لمونځونه راګرځي يا کم ترکمه ديوه کال لمونځونه په راګرځي اودغه عقيده فقهاوو په خپل تصريح دډيري غټي خطرې سره تړلي بللې ده. حواله وګورى: (رجل يصلي فى رمضان لاغير ويقول اين خود بسيار است اويقول. صلاة فى رمضان تعدل سبعين صلاة يكفر. بزازيه على الهندية ج ۶ص ۳۴۱) همدا شان قضا لمونځ په داسي شکل سره کول چي ليدونکو ته معلومه سي چي قضاء لمونځ ادا کيږي داعمل هم مکروه تحريمي



www.jamairahmani.org

دی که په مسجد کښي وي که په غیرمسجد کښي وي : حواله وګوری درد المحتار ښخه: (لان التأخير معصية فلايظهرها. وفى الحاشية ويظهر من التعليل انّ المكروه قضاها مع الاطلاع عليها ولو فى غير المسجد. ردالمحتار مع الدرج ۱ ص۳۱۹)

اوکوم حدیث چي پر دغه برابر راغلی دی چي که چا د روژې په آخر ه جمعه کښي یو لمونځ دقضا سوو لمونځونو ښخه اداء کړی نودايي دټوله عمر دلمونځونو تر اویا کالوپوري جبیره ګرځي. دغه حدیث ته ملاعلي قاريرح په موضوعات کبیرکښي موضوع درواغ او باطل ویلي دي . عبارت وګوری :
قال العلى القارىرح : حديث من قضى صلوة من الفرائض في آخر جمعة من رمضان كان جابرا لكل صلوة فائتة في عمره الى سبعين سنة باطل قطعا لانه مناقض للاجماع . على انّ شيئا من العبادات لايقوم مقام فائتة سنوات.
الموضوعات الکبیر رقم :۹۵۳ ص ۲۴۲ حرف المیم
(فتاوی محمودیه ج ۲۰ ص ۱۸۸)



www.jamairahmani.org

# که دروژې په حالت کښې مچ خولې ته ننوزي؟

سوال: که چیرې دروژې په حالت کښې دیو کس په خوله او حلق کښې غیر اختیاري مچ یا غوماشه یا بله خزنده ننوزي تر حلق شوه (تیره) سې ایا روژه په ماتیږي که یا؟

جواب: که چیرې د روژې په حالت کښې خود بخوده وحلق ته دننه مچ یا غوماشه دا خله سې روژه نه فاسدوي اوکه چا قصدا دغسې وکړه نو یې روژه فاسده ده قضاء غواړي کفّاره نه غواړي ومالیس بمقصود بالا کل ولایمکن الا حترازعنه کالذباب اذا وصله الٰی جوف الصایم لایفطره کذافي ایضاح الکرماني۔

فتاوی عالمگیري ج۱ ض۲۰۳ مسایل الصّوم ص۱۸۵



www.jamairahmani.org

# مقیم سړي دروژې نیت وکړي
# بیا مسافر سو

سوال: یو کس د پیشلمي څخه د روژې نیت وکړئ او په دا سهار یې روژه کړه تر غرمي پوري او غرمه په سفر روان سو روژه یې په سفر کښې ماته کړه ایا دغه کار ده ته شرعًا رواه دئ.

جواب: که چیري یو مقیم کس دروژې د نیولو نیت وکړئ او دهغه څخه وروسته دئ په سفر روان سو نود ده پر ذمّه ددغه ورځې روژه نیول لازمه ده که یې چیري دیوعذر څخه دغه روژه فاسده کړه قضاء یې سته کفاره نه غواړي خو د ده پر ذمه دا روژه نیول لازمه وه، ده بې ځایه دغه روژه ماته کړل حال داچې وده ته نه وه رواء.

ومنهاالسفرالذي يبيح الفطر وهوليس بعذر في اليوم الذي انشآ السفرفيه كذافي الغياثيۀ.

فتاوي عالمگيري ج١ ص ٢٠٦ مسايل الصّوم ص١٨٥



www.jamairahmani.org

## د روژې مقصد څه شی دئ؟

سوال: مسلمانانو ته ولي په اسلام کښي د روژې حکم ورکړه سوي دئ د روژې حکمت او مصلحت څه شی دئ که یه راته بیان کړي ډیر به ښه وي

جواب: د روژې اصلي مقصد دادئ چي نس خالي وي او د نفس خواهشات ختم وي او د روژه دار په نفس کښي تقوٰی پیدا اسي او د زیات خوارک په صورت کښي دا مقصد د مابینه ځخه ځي لهذا په روژه مات کښي باید دومره وخوړل سي ځومره چي انسان په عامو وختو کښي خوري داسي نه چي د سهار ځخه نیولي تر ماښامه پوري د دي ټول وخت ذخیره ونیسي که داسي وي بیا د روژې مقصد نه حاصلیږي د روژې مقصد شهوانیه قوت کمول دي، او قوّت نورانیهٔ او ملکیهٔ زیاتول دي نور حکمتونه هم لري چي په کتابو کښي ذکر دي.

حاشیة الطحطا وي علي مراقي الفلاح ج۲ ص۲۹۴ مسایل الصّوم ص۱۸۴



www.jamairahmani.org

## مشت زني يعني موټ وهل په روژه کښې

سوال: که څيري يو کس د روژې په حالت کښې په خپل لاس سره ځان انزال کړي، ګناه لري که يا؟ کفاره غواړي که يوازي قضاء غواړي؟

جواب: مشت زني يعني ځان په لاس او موټه سره انزالول ګناه لري دا ناجايز او حرام کار دئ او شرعًا لعنت پر راغلئ دي. د قيامت په ورځ به دد غه کسانو لاسونه حامله وي، که څيري د روژې په حالت کښي يو چا ځان په لاس سره انزال کړئ روژه يي فاسده ده فقط قضاء غواړي کفارۀ نه غواړي او که انزال نه سو قضاهم نه غواړي روژه يي نه ده فاسده

وكذ استمناء بالكف اي في كونه لا يفسد لكن هذا اذالم ينزل امّا اذا انزل فعليه القضاء.

البحرالرّايق ج۲ ص۲۷۲شامي ج۲ ص۳۹۹ مسايل الصّوم



www.jamairahmani.org

# دتراويح باب



www.jamairahmani.org

# د تراويح بيان

## د تراويح د لمانځه احکام او مسئلې

❶ مسئله: د تراويح شل رکعته لمونځ په روژه کښې سنت مؤکد دی او هم پر دغه باندې دصحابه کرامو ﷺ اجماع ده (بدائع ۱/ ۲۸۸)

د نارينه او ښځو دواړو دپاره سنت دی. فقط روافض او اهل تشيع د تراويح د سنت کېدلو څخه منکر دي، خپله نبي کريم ﷺ د تراويح لمونځ په جماعت سره درې شپې کړی دی او بيا يې ځکه پرېښودی چې پر امت فرض نه سي. (درمختارج ۲/ ۴۳)

❷ مسئله: په کومه شپه اومابنام چي مياشت ولېدل سي د همدغه شپې څخه بايد تراويح شروع سي. ردالمحتار



www.jamairahmani.org

**۳ مسئله:** د تراویح لمونځ د روژې تابع نه دی کوم کسان چي د یو عذر په خاطر روژه نسي نیولای یا یې نه نسي د هغو لپاره هم تراویح سنت دي که یې ونه کړي د سنت د ترک او پرېښوولو ګناهګاره دی.
مراقي الفلاح

**۴ مسئله:** مسافر او مریض چي روژه نه نیسي همدا شان هغه ښځې چي حیض او نفاس ورسره وي کله چي دوی د دغه مریضۍ او حیض او نفاس څخه د تراویح په وخت کښي فارغه سي باید تراویح وکړي.
مراقي الفلاح

**۵ مسئله:** د تراویح د لمانځه وخت د ماخوستن د لمانځه څخه وروسته دی بیا تر سهاره پوري دی، که چا دماخوستن تر لمانځه مخکښي تروایح وکړې دا تراویح یې معتبري تراویح نه دي، همدا شان یو کس ته تر تراویح وروسته معلومه سوله چي د ماخوستن لمونځ مي فاسد سوی دی د څه عارض د وجي هغه ته



www.jamairahmani.org

پکار دی چي بیا تراویح تر دغه لمانځه وروسته را وګرځوي. درمختار وغیره

٦ مسئله: وتر تر تراویح وروسته اداء کول افضل او بهتره دی که یو چا مخکښي اداء کړه تر تراویح هم صحیح دی. درمختار

٧ مسئله: د تراویح لمونځ د شپې تر نیمی مخکښي اداء کول مستحب دی او تر نیمي شپې وروسته یې کول خلاف د افضل دی .طحطاوي حاشه مراقي الفلاح

٨ مسئله: د تراویح لمونځ په اتفاق او اجماع د صحابه کرامو ﷺ شل رکعته دی هر دوه رکعته په یوه سلام سره. درمختار بحر الرائق وغیره

٩ مسئله: د تراویح په لمانځه کښي تر څلورو رکعتو وروسته دومره اندازه کښېنستل مستحب کاردی په څومره وخت کښي چي هغه څلور رکعته لمونځ اداء



www.jamairahmani.org

سوی دی ، لیکن که چیري په دومره اندازه وخت
ناستي سره خلګو ته تکلیف وي، یا د جماعت د لږ
والي خوف او بېره وي نو بیا دي تر دغه اندازه وخت کم
کښېني، په دغه ناسته کښي د استراحت هر کس ته که
امام وي او که مقتدي اختیار دی که نفل کوي که
تسبیحات وایي که تلاوت کوي او که چُپ او ساکت
کښېني په مکه معظمه کښي خلګ طواف کوي او په
مدینه منوره کښي خلګ څلور رکعته لمونځ کوي او
بعض فقهاء وایي چي تر څلور رکعته وروسته ناسته
کښېني دي دغه تسبیحات دي په خاموشی سره وویل
سي :

سُبْحَانَ ذِي الْمُلْكِ وَالْمَلَكُوْتِ ط سُبْحَانَ ذِي الْعِزَّةِ وَالْعَظَمَةِ وَالْهَيْبَةِ وَالْقُدْرَةِ وَالْكِبْرِيَآءِ وَالْجَبَرُوْتِ ط سُبْحَانَ الْمَلِكِ الْحَيِّ الَّذِيْ لَا يَنَامُ وَلَا يَمُوْتُ ط سُبُّوْحٌ قُدُّوْسٌ ط رَبُّنَا وَرَبُّ الْمَلٰٓئِكَةِ



www.jamairahmani.org

وَالـرُّوْحِ ؕ لَآ اِلٰـهَ اِلَّا اللّٰهُ نَسْـتَغْفِرُ اللّٰهَ وَنَسْـئَلُكَ الْجَنَّةَ وَنَعُوْذُ بِكَ مِنَ النَّارِ ؕ شامي در مختار وغيره.

⓾ مسئله: که یو شخص مسجد ته په داسي وخت کښي راغی چي د ماخوستن جماعت ځیني تېر سوی وو نو هغه ته پکار ده چي اول د ماخوستن لمونځ وکړي بیا دي د امام سره په تراویح کښي شریک سي هغه تېري سوي او پاته سوي تراویح دي تر وترو وروسته اداء سي نه د تراویح په مابین کښي. در مختار

⓫ مسئله: په ټوله میاشت کښي د روژې ټوله قرا ن کریم په ترتیب سره په تراویح کښي ختمول سنت مؤکد کار دی د خلګو د سستۍ او کاهلۍ په خاطر دغه سنت باید پرېښوول نه سي، که دغه اندېښنه موجوده وه که چیري د حفظ تراویح وکړه سي نو خلګ لمانځه ته نه راځي او جماعت به مات سي یا به خلګو ته دا کار ګران سي، نو بهتره دا ده چي څومره اندازه طاقت دوئ لري



www.jamairahmani.org

هغومره اندازه دي وويل سي، يا دي د الم تركيف څخه نيولې د قرآن كريم تر اخره پوري دغه لس سورتونه په شلو ركعتو كښي په تكرار سره تلاوت سي. در مختار مراقي الفلاح بحر الرائق شامي

١٢ مسئله: تر يوه قرآن كريم زيات تلاوت بايد ونه سي په تراويح كښي تر څه وخته چي د مقتديانو شوق او رغبت نه وي معلوم سوى.

١٣ مسئله: په يوه شپه كښي ټوله قرآن كريم اورېدل او ويل روا دى په دې شرط چي خلك يې په ښه شوق سره واوري او كه يې په شوق سره نه اورېدى يا د بوج او جبر په شكل سره وو بيا يې ويل مكروه دى.

١٤ مسئله: په تراويح كښي د يو سورت په شروع كښي بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ په لوړ اواز سره ويل پكار ده ځكه چي بسم الله هم د قرآن كريم يو ايت دى كه



www.jamairahmani.org

څه هم زموږ په مذهب کښې د هیڅ سورت جز نه دی او که یې بسم الله بالکل ونه ویل نو د قرآن مجید په پوره کېدو کښې به یو ایت کم سي او که یې اهسته وواییې نو د مقتدیانو قرآن مجید به پوره نسي.

⑮مسئله: تراویح کول په ټوله روژه کښې سنت دي که څه هم قرآن مجید تر میاشتې مخکښې ختم سي دا نوري شپې دې بیا د الم ترکیف تراویح وسي.

⑯مسئله: د قل هو الله سورت د تراویح په رکعتو کښې دري واره په تکرار سره ویل مکروه دی.

⑰مسئله: نابالغه حافظ د قرآن کریم د کم عمر چي تر اوسه پوري پنځلسو کالو ته نه وي رسېدلی په ده پسې دبالغه کسانو لمونځ صحت نه لري لیکن که یې عمر پنځلس کاله ته رسېدلی وي نو بیا په هغه پسې تراویح کول درستي دي. ردالمحتار ۱/ ۱۶۸



www.jamairahmani.org

۱۸ مسئله: قاري دقرآن يا حافظ دقرآن يا سامع د قرآن ته چي دقرآن كريم دويلو اجرت او مزدوري چي دعرف پر بنا باندي معلومه اومقرره سي چي مورږ تاته دومره روپۍ يا افغانۍ دركوو دختم په بدل كښي، داسي شخص ته خپله هم دقرآن كريم دويلو ثواب نه وركول كيږي نونوروته به يي څه ثواب حاصل سي ؟ ردالمحتار ۶/ ۶۵

۱۹ مسئله: داسي كسان په تراويح كښي امامان نه دي جوړول پكار چاچي ږيره خريلې وي اويايي لنډه كړې وي ځكه چي په هغوی پسې اقتدآء كول مكروه تحريمي ده . درمختارج ۲/ ۴۱۸

۲۰ مسئله : مسافر اومريض ته كه چيري دتراويح په اداء كولو كښي څه قسم تكليف اوپرېشاني نه وي نوكول يي افضل دي . درمختارج ۲/ ۴۳



www.jamairahmani.org

# د اعتکاف باب



www.jamairahmani.org

# اعتکاف مسائلي او حکمونه

## د اعتکاف تعریف

اعتکاف د عربي ژبي لفظ دی معنی یې ده، د رنګ کول (پاته کېدل) ځان ساتل په مسجد کښي او انتظار کول او شرعًا اعتکاف دې ته وایې چي انسان پاته سي په نیت د اعتکاف په داسي مسجد کښي چي هلته پنځه وخته لمونځ په جماعت سره اداء کېږي.

## د اعتکاف شرطونه

مسلمان، عقلمند، بالغ کېدل شرط دی، خلاص به وي د حیض او نفاسه او جنابته څخه، نیت به یې د اعتکاف وي، په داسي مسجد کښي به وي چي هلته پنځه وخته لمونځ سره د اذانه او اقامته په جماعت سره اداء کېږي، او د معتکف به روژه وي په واجب او سنت



www.jamairahmani.org

اعتکاف کښېني. مسائل رفعت قاسمي، فتاوی محموديه . موسوعه ، عالمګيري او څلور سوه مسائل

## د اعتکاف قسمونه

د اعتکاف درې قسمونه دي: واجب، سنت او نفل

❶ واجب اعتکاف : واجب اعتکاف هر هغه اعتکاف ته ويل کېږي چي يو کس په خپل قصد او اراده سره اعتکاف پر خپل ځان نذر کړي هغه نو که په يو شرط سره تړلی وي او که نه وي تړلی.

❷ سنت اعتکاف : د روژې د مياشتي په اخري لسو شپو کښېني اعتکاف کولو ته سنت اعتکاف ويل کيږي دغه اعتکاف سنت مؤکد على الكفاية دی.

❸ مستحب اعتکاف: د دغه دوو قسمو څخه ماسوا بل قسم ته اعتکاف مستحب وايي لکه يو ساعت يا يو ګړی په مسجد کښېني د اعتکاف په نيت يوشخص کښېنيني.



www.jamairahmani.org

## د دغو اقسامو حکمونه

١ د واجب او سنت اعتکاف لپاره روژه شرط ده .

٢ معتکف به سنت اعتکاف ته د روژې د میاشتي د شلمي ورځي د لمر لوېدلو مخکښي داخلېږي .

٣ همدارنګه معتکف به د روژې د شلمي ورځي د لمر لوېدلو مخکي نیت کوي، که یو څوک تر غروب د لمر وروسته اعتکاف ته داخل سو یا یې نیت د لمر تر لوېدلو وروسته وکړی اعتکاف یې سنت نه دی بلکه مستحب دی .

۴ معتکف ته روا دی چي داسي نیت وکړي چي د الله د رضا لپاره پر ما درې ورځي اعتکاف لازم دی لیکن که مریض پیدا سو یا جنازه پیدا سوه یا د یو عالم درس شروع سو، نو زه د مسجد څخه وځم لیکن دا حکم د واجب اعتکاف لپاره دی .



www.jamairahmani.org

## هغه شيان چي د اعتكاف كوونكي لپاره مستحب دي

١ اعتكاف كوونكي ته مستحب دي چي د بې ځايه او بې هوده خبرو څخه پرهېز وكړي او خپل تر خولې فقط د خير خبري وباسي.

٢ همدا شان ده لره مستحب دی چي د روژې د اخري لسو شپو د اعتكاف اهتمام وكړي او په داسي مسجد كښي اعتكاف وكړي چي په هغه كښي ثواب او اجر زيات وي لكه مسجد حرام يا مسجد نبوي يا عام جامع مسجد .

٣ همدا شان مستحب دی د ده لپاره چي تلاوت د قرآن كريم ډېر وكړي مطالعه د حديثو د كتابو وكړي او مذاكره د علم او درس او تدريس وكړي.

٤ همدا رنګه مطالعه او كتنه د هغو كتابو او رسالو



www.jamairahmani.org

وکړي چي په هغو کښي قصي او واقعاتي د انبیاؤ او صحابه کرامو ﷺ او نیکانو خلګو وي.

❺ همدا رنګه دیني مسائل د علماء کرامو یا د معتمدو کتابونو څخه زده کړي.

❻ همدا رنګه اهتمام د نوافلو وکړي لکه تحیة المسجد، تحیة الوضوء، د اشراق لمونځ، د څاښت لمونځ، د اوابین لمونځ، دتهجد لمونځ، د صلوة تسبیح اداء کول په ټوله ورځ کښي د خپل قدرت په اندازه سره.

❼ د اعتکاف کوونکي لپاره مستحب دی ډېر درود ویل پر نبي کریم ﷺ باندي.

❽ او په وېښو تېرول پنځه طاق شپې (۲۱، ۲۳، ۲۵، ۲۷، ۲۹) د شب قدر د شپو څخه.



www.jamairahmani.org

٩ او ډېري دعاوي کول د ځان لپاره او د مور او پلار لپاره د قريبانو دوستانو لپاره د ټوله اهل اسلام لپاره .

١٠ که يې چيري شب قدر ولېدی، نو دغه دعاء کول مستحب ده :

اَللّٰهُمَّ اِنَّكَ عَفُوٌّ تُحِبُّ الْعَفْوَ فَاعْفُ عَنِّيْ.

(رواه الترمذي)

## هغه کارونه چي معتکف ته يې کول روا دي

١ خوراک، چيښاک،او خوب کول. ٢ ډوډی د خپله کوره څخه راوړل پسله غروبه د لمر په وخت کښي د عذر. ٣ را نېول او خرڅول د خپل اولاد د ضرورت لپاره بېله دي چي هغه سامان مسجد ته راوړه سي. ٤ نکاح، طلاق، او رجوع کول په ژبه سره ٥ خبري کول په قدر د ضرورت په دې شرط چي د ده خبري سبب د تکليف د بل معتکف ونه ګرځي. ٦ د سر پرېولل په



www.jamairahmani.org

دي شرط چي سر به يې د مسجد څخه دباندي وي. ❼روا دی پرپولل د لاسو او د پښنو او اودس په يو لوي لوښي کښي چي مسجد خراب او ککړ نه سي. ❽جامې بدلول، روغن استعمالول او خوشبوئي لګول. ❾ننوتل منارې او حجري ته د اذان لپاره او بل کار لپاره هم په دې شرط چي د مسجد په حدودو کښي به وي، او که حجره د مسجد د حدودو څخه د باندي وه نو بيا فقط د اذان لپاره ورتلای سي. ❿وتل له مسجد څخه د طبعي ضرورت لپاره لکه بولي او قضاء حاجت او د جنابت د غسل لپاره.⓫او وتل دمسجد څخه د هوا د خارجولو لپاره. ⓬سګريټ اونسوار په مسجد کښي کول ناروا دي او د دغو شيانو د استعمال لپاره د مسجد څخه وتل هم نه دي روا بلکه پرېښودل يې ضروري دی، او که يې ضرورت ډېر زيات ؤ د نسوارو نو چي کله بيت الخلاء ته انسان ځي په لاره کښي بايد استعمال سي، يا په بيت الخلاء



www.jamairahmani.org

کښبي دننه استعمال سي، او بیا به بد بویې د خولې ثخه پاکوي مسجد ته به رائحي. ۱۳ د حاجت شرعي لپاره وتل روا دي لکه د جمعې لمونځ او داسي وخت به ځي لمانځه ته د جمعې چي هلته ورسي تحية الوضوء نفل اداء کړي سنت به اداء کړي اذان او خطبه به واوري او بیا به وروسته تر اداء کولو د فرضو او سنتونو د جمعې ثخه به په اطمینان سره راروان سي، اوکه چیري پا ته سو زیات درنګ (پاته کېدل) یې وکړی یا بالکل اعتکاف هلته په هغه مسجد کښبي پوره کړي روا دی سره د کراهیته. ۱۴ که په ضرورت پسي را وتلی ؤ پر مریض یې پوښتنه وکړه یا یې د جنازې لمونځ اداء کړی روا دی لیکن خاص د دغه کار لپاره وتل روا نه دی. ۱۵ روا دی اعتکاف کوونکي لره ملاقات د خپلو محرماتو ښځو سره لکه مور، خور، خاله، خوابښې په دې شرط چي هغوی به په حجاب کښبي وي. ۱۶ په مسجد کښبي وېښته کوچني کول په



www.jamairahmani.org

خپله یا په بل سره بیله مزدورۍ روا دي او که حجام مزدوري غوښته معتکف به دننه وي او حجام به د مسجد څخه وتلی وي، ځکه کار په مزدورۍ په مسجد کښي نه دی روا. ⑰ د جامو پرېمينځل او ګنډل په مسجد کښي روا دی په دې شرط چي مسجد ککړ نسي. مسائل رفعت قاسمي، فتاوی محموديه. موسوعه، عالمګيري او څلور سوه مسائل

## هغه شیان چي اعتکاف کوونکي لره مکروه دی

① د خپلي ښځي سره صحبت کول. ② اولاس وروړل په خوند او شهوت سره. ③ او داسي خبري کول چي د هغو څخه خوند او شهوت را پيدا سي. ④ ديني يا دنيوي تعليم ورکول په پيسو سره. ⑤ همېش خاموشي اختيارول په دې نيت سره چي د غه خاموشي ثواب لري. ⑥ بد بويه اشياء (شيان) خوړل



www.jamairahmani.org

او د هغو استعمالول. مسائل رفعت قاسمي ، فتاوى محموديه .
موسوعه ، عالمګيري او څلور سوه مسائل

## هغه شيان چې اعتکاف فاسده وي

❶ وتل د مسجد څخه بېله ضرورته شرعية او طبعية که د لږ وخت لپاره وي او که د ډېر وخت لپاره که په هېره سره وي او که په قصد سره وي که د خوشحالی لپاره وي او که د غم لپاره وي دا اعتکاف فاسده وي ليکن که يې اعتکاف فاسد سو د عذر د وجې نو ګناه نسته پر معتکف باندي، لکه د مريضی د وجي يا د مسجد د نړېدو خطره وه، يا يو چا په زور سره مسجد څخه و ايستی. ❷ د مسجد څخه وتل د لاسو د پرېولو لپاره دا هم اعتکاف فاسده وي. ❸ فقط د مسواک وهلو لپاره وتل دا هم اعتکاف فاسده وي مګر که او دس ورسره ؤ بيا پروواه نه لري. ❹ شرعي يا طبعي حاجت يې تر سره کړی بيا هم معتکف ځنډ وکړی فورًا



www.jamairahmani.org

مسجد ته رانه غلی هم یې اعتکاف فاسد دی.

❺ د روژې د میاشتي اعتکاف که چا فاسد کړی فقط به د هغې ورځي قضاء را وړي په کومه ورځ چي دغه شخص فاسد کړی دی د ټوله اعتکاف قضاء نه ده لازمه باندي، البته تر فساد وروسته یې اعتکاف نفلي و ګرځېدی سنت نه سو.

مسائل رفعت قاسمي، فتاوی محمودیه. موسوعه، عالمګیري او څلور سوه مسائل



www.jamairahmani.org

# دشپه قدر باب

# شب قدر او دهغه فضيلت

قال الله تعالى : اِنَّآ اَنۡزَلۡنٰهُ فِیۡ لَیۡلَةِ الۡقَدۡرِ ۚ﴿۱﴾ وَمَآ اَدۡرٰىكَ مَا لَیۡلَةُ
الۡقَدۡرِ ؕ﴿۲﴾ لَیۡلَةُ الۡقَدۡرِ ۬ۙ خَیۡرٌ مِّنۡ اَلۡفِ شَهۡرٍ ؕ﴿۳﴾ تَنَزَّلُ الۡمَلٰٓئِكَةُ وَالرُّوۡحُ
فِیۡهَا بِاِذۡنِ رَبِّهِمۡ ۚ مِنۡ كُلِّ اَمۡرٍ ۛۙ﴿۴﴾ سَلٰمٌ ۛ۟ هِیَ حَتّٰی مَطۡلَعِ الۡفَجۡرِ ﴿۵﴾
(القدر)

ترجمه : بېشکه موږ نازل کړی دی دغه قرآن کريم د قدر په شپه کښي، او څه شي خبر کړی يي ته چي د قدر شپه څه ده، شپه د قدر بهتره ده تر زرو مياشتو، راکښته کيږي په دغه شپه کښي فرښتې او جبرآئيل امين د خپل رب په حکم سره د هر کار دپاره، امن ده هغه شپه ترسهاره پوري.

فائده : د دې شپې ډېر غټ فضيلت په دغه آيت کښي بيان سوی دي هغه دا چي په دغه شپه کښي عبادت تر زرو مياشتو يعني د دروا تيا کالو او څلورو مياشتو تر عبادت لا زيات ثواب لري او بيا يي د بهتر والي اندازه



www.jamairahmani.org

هم نه ده بیان کړې چې څومره اندازه به بهتره یې؟ دوچنده، درې چنده، لس چنده څومره؟ بلکې ددې ټولو امکان سته .

دحضرت ابوهریرةﷺ څخه روایت دی چې نبي کریمﷺ وفرمایل چې کوم شخص دشب قدر په شپه دخپل پروردګار عبادت د ایمان په حالت کښې او د ثواب په نیت سره وکړی دهغه ټوله کړې ګناهونه معاف کیږي. رواه البخاری ومسلم

## دشب قدر تعیین

دومره خبره خو دقرآن کریم دایآتونو څخه په صراحت سره ثابته ده چې دقدر شپه د روژې مبارکې په میاشتې کښې وي .

اوپه صحیح بخاري شریف کښې هم دحضرت عائشې رض څخه روایت دی چې نبي کریمﷺ وفرمایل چې شب قدر دروژې په آخري عشره یعني لسو شپو



www.jamairahmani.org

کښې تلاش کړی. او په مسلم شریف کښې هم د حضرت عبدالله ابن عمر رضي الله عنه حدیث دی چې نبي کریم ﷺ و فرمایل چې شب قدر د روژې د رمضان المبارک په آخري طاقو شپو (۲۱، ۲۳، ۲۵، ۲۷، ۲۹) کښې تلاش کړی. تفسیر مظهري

## د شب قدر مخصوصه دعا

حضرت عائشې رضي الله عنها د نبي کریم ﷺ څخه پوښتنه وکړه چې یا رسول الله که چیرې زه شب قدر و وینم نو کومه دعا وکړم؟ نبي کریم ﷺ ورته وفرمایل چې دغه دعا وکړه:

اَللّٰهُمَّ اِنَّكَ عَفُوٌّ تُحِبُّ الْعَفْوَ فَاعْفُ عَنِّيْ

ترجمه: ای الله ته ډیر معاف کوونکی ذات یې او معافي خوښوې هم ای الله ته زما خطاوې را معاف کړې. قرطبي



www.jamairahmani.org

# د سر ساېي باب



www.jamairahmani.org

# دسرسايې بيان

## د سر سايې مسائل او حکمونه

❶ د کوچني اختر په ورځ د صبح صادق په وخت کښې که د يو چا سره سره زر، سپين زر، روپۍ، مال تجارت يا داسي سامان چي د روزمره په استعمال کښې نه راځي او قيمت يې نصاب ته رسيدې يعني دوه پنځوس نيمي تولې سپين زر چي اوسنې اندازه يې ۶۱۲ ګرامه سپين زر کيږي پر داسي کس باندي صدقة الفطر يعني سرسايه واجب ده او د کال تېرېدل هم پر دغه شيانو باندي لازم نه دي.

❷ که د چا په کور کښې تې وي، وي سي آر، او ډش، غوندي خرافات انساني وي پر دغوشيانو باندي سر سايه ستّه ځکه چي دا په ضرورت انساني کښې نه دي داخل .



www.jamairahmani.org

۳ یو کس پور (قرض) وړی دی نو د قرض تر اداء کولو وروسته که چیري ده ته د نصاب په اندازه روپی پاتېدلي خو سرسایه پر واجب ده او که نه پاتېدلې نو بیا نه ده پر لازمه.

۴ که یو کس تر صبح صادق مخکي مړ سو یا تر صبح صادق وروسته پیدا سو پر داسي کس سرسایه نسته .

۵ د خپلي ښځي او مشرانو اولادو سرسایه پر خاوند او پلار نه ده واجب البته که یې اداء کړه اداء کېږي .

۶ پر هر کس باندي د خپل ځان او کشرانو یعني نا بالغه اولادو سرسایه لازمه او واجب ده.

۷ که یو کس د یو عذر د وجي روژې نه وي نیولي پر هغه کس هم سرسایه اداء کول لازم او واجب ده .

۸ که د نابالغه اولاد په ملکیت کښي دومره مقدار



www.jamairahmani.org

مال ؤ چي په هغه سره دئ غني کېدی یعني د نصاب په اندازه ؤ نو د ده د ماله ثخه دي اداء کړل سي، لیکن افضل دا ده چي د پلار د ماله ثخه اداء کړل سي.

❾ که د یو چا په ملکیت کښي د شیې د تېرېدو او اوسېدو ثخه زیات مکان دوکان سرای وي او په کرایه یې ورکړی وي، نو دغه تر ضرورت زیات دي که د هغه شیانو مالیت د سپینو زرو د زکوة نصاب ته رسېدی، نو پر دغه مالک باندي سرسایه اداء کول واجب ده او که دغه مالک فقط په دغه کرایې سره گذاره کوله نو دغه هم په ضروري سامان کښي راځي سرسایه نسته باندي.

❿ چي روژه شروع سوله هر وخت انسان سرسایه ورکولای سي او که یې تر روژې مخکي اداء کړه هم گنجایش سته.



www.jamairahmani.org

⑪ د کوچني اختر په ورځ تر صبح صادق وروسته او د عیدګاه د لمانځه څخه مخکي په دغه مابین کښي باید سرسایه اداء سي او اداء کول يې په دغه وخت کښي مستحب دي.

⑫ که یو چا د اختر د لمانځه څخه مخکي سرسایه نه کړه اداء نو شرعًا معاف نه دی بلکه وروسته يې هم اداء کول لازم دي او دغه ځنډ په کښي راوستل مکروه دی.

## د سرسايې مقدار

① په سرسایه کښي یو څوک غنم یا اوړه ورکول وغواړي نو د یوه کس له طرفه به که کوچنی وي او که لوی شپاړس سیره فی کس اداء کوي یعني یوه کیلو او شپږسوه دوشپیته ګرامه (۱،۶۶۲)

② خالص غنم یا به د غنمو اوړه ورکوي احتیاطًا دوه کیلو غنم یعني اتلس سیره ورکول بنه کار دی.



www.jamairahmani.org

۳ د غنمو او د اوړو پر ځای قیمت هم ورکول روا او جائز دی.

ردالمحتار، بحرالرائق، موسوعة، فتاوای دیوبند، فتاوای محمودیه

## د کوچني اختر په سهار دغه کارونه سنت دي

۱ د شریعت موافق زینت او ارایش کول. ۲ غسل کول ۳ مسواک وهل ۴ په اندازه د طاقت ښه جامې اغوستل. ۵ عطر لګول. ۶ سهار وختي ویښېدل. ۷ عیدګاه ته ژر تلل. ۸ د عیدګاه تر لمانځه مخکې یو شی خوړل. ۹ د اختر لمونځ په عیدګاه کښې کول. ۱۰ پر پښو عیدګاه ته تلل. ۱۱ پر یوه لاره تلل او پر بله لاره راتلل. ۱۲ تکبیرونه آهسته آهسته ویل.

## د اخترو دلمانځه داداء کولو طریقه

نیت: نیت کوم دوه رکعته د کوچني یا لوی اختر دلمانځه سره د شپږو واجب تکبیرو اقتداء مي ده په



www.jamairahmani.org

دغه حاضر امام پسې مخ پر کعبه شریفه الله اکبر. د نیت څخه وروسته دي امام او مقتدیان ټوله لاسونه وغوږونو ته پورته کړي الله اکبر دي ووايي دا تکبیر تحریمه سو. تر دې وروسته دي سبحنک اللهمّ تر اخیره پوري ووايي ددې وروسته دي امام هغه درې زاید تکبیرونه ووايي او مقتدیان دي هم ورسره ووايي په دغه الله اکبرو کښې هم دتکبیر تحریمې په شان لاسونه هر واري وغوږونو ته پورته کیږي او بیا ایله کیږي او دهر الله اکبر وروسته دي دومره ځنډ کوي چي درې واره سبحان ربی الاعلی په کښې ویل کیدلای سي او د دریم الله اکبر وروسته دي لاسونه تر نامه لا ندي وتړي نو امام دي اعوذبالله او بسم الله تر پایه پوري ووايي او الحمدلله او بیا دي یو بل سورت ورسره یو ځای کړي او مقتدیان دي چُپه خوله ولاړ وي او بیا دي رکوع او سجده وکړي. په دوهم رکعت کښې دي اول الحمد لله او یو بل سورت ووايي ددې وروسته



www.jamairahmani.org

دي امام او مقتديان ټوله هغه درې زايد تكبيرونه ووايي او هر وار دي لاسونه تر غوږونو پوري پورته كړي بيا دې را ابله كړي او كوم وخت چي څلورم تكبير ووېل سو نو بېله لاسونو پورته كولو و غوږوته سيده دي ركوع ته ولاړ سي او دنورو لمونځونو په شان دي پاته لمونځ اداء كړي.

مسئله : دكوچني اختر اولوى اختر لمونځ فقط پر نارينه وو باندي واجب دى پر ښځو باندي نسته .
بحرالرائق .موسوعة



www.jamairahmani.org

# دزکات باب

# دزکات اداء کولو اهمیت اومقام

قال الله تعالی في القرآن المجید والفرقان الحمید۔

وَاَقِیْمُوا الصَّلٰوةَ وَاٰتُوا الزَّكٰوةَ وَارْكَعُوْا مَعَ الرّٰكِعِیْنَ○ البقرة۴۳

ترجمه: اوتاسي ودروی لمونځونه او ورکړی زکات اورکوع کوی درکوع کوونکو سره .

دزکات لغوي معنی ده (طهارت اوبرکت اوزیاتوالی) اودشریعت په ژبه زکات دي ته وایي چي دخپل مال اندازه معلومه کړي او بیا د هغه څخه د شریعت مقرره حصه و یوه مستحق د زکات ته ورکړي او هغه ورمالک کړي. کله چي دغه مقرره حصه دشریعت ورکړه سوه نوګواکي پاته مال په هغه سره پاک سو اوالله جَلَّ جَلَالُهُ هغه ته برکت هم اچوي اوهمداشان انسان دآخرت داجر مستحق هم جوړیږي. او د ګناهونو څخه هم پاک اوصاف کیږي.



www.jamairahmani.org

# دزکات شان داحاديثو په رڼا کښې

اول حديث: دنبي کريمﷺ ارشاد مبارک دی چې کوم شخص دخپل مال زکات اداء کړی نو هغه د هغه د مال ښخه شر پورته کړی. کنزالعمال، طبراني، مجمع الزوآئد

دوهم حديث: دنبي کريمﷺ ارشاد مبارک دی چې کله تاسې

دخپل مال زکات اداء کړی نو کومه ذمه داري چې پر تاسې باندې راتله تاسې دهغې ښخه خپل ځان فارغه کړی. ترمذی شريف

دريم حديث: په يوه حديث شريف کښې دنبي کريمﷺ ارشاد مبارک دی چې خپل مالونه دزکات د اداء کولو په ذريعه سره محفوظه کړی، او خپل دمريضانو علاج په خير اوخيرات سره وکړی او د مصيبتونو د طوفان سره په دعا او تبرع سره مقابله وکړی. ابوداود



www.jamairahmani.org

**خلورم حديث:** دنبي کريم ﷺ ارشاد مبارک دی چي کوم سړی دخپل مال زکات نه اداء کوي د قيامت په ورځ به د هغه مال د پک او ښوی سري مار په شکل کښي راسي او دده پر غاړه به راتاو سي او دغاړي طوق به يي جوړ سي. نسائي

## د زکات مسائل او حکمونه

### زکات پر چا فرض دی؟

زکات پر هر مسلمان، بالغ عاقل باندي فرض دی، چي مالک به د نصاب وي، که نغدي وي او که سامان د تجارت وي او خلاص به وي د پوره څخه، او زيات به يي وي تر حاجت اصلي، او د کال تېرېدل پر دغه نصاب شرط دي. شامي موسوعة البحر الرآئق

**١ مسئله:** که د يو چا په ملکيت کښي دو پنځوس نيمي تولې سپين زر وي چي د جديد حساب په اندازه



www.jamairahmani.org

سره ۶۱۲ ګرامه کيږي پر هغه زکات فرض دی. مسائل زکات اوموسوعة

❷مسئله: که د چا په ملکيت کښي اووه نيمي تولې سره زر وه چي د جديد حساب په اندازه سره اووه اتيا نيم ګرامه کيږي ۸۷،۴۷۹ پر هغه کس زکات فرض دی . البحرالرائق

❸مسئله: که د يو چا سره د دغه زرو په اندازه او برابری نغدي روپی ورسره وي هم زکات پر فرض دی. شامي

❹مسئله: که د يو چا سره د دغه زرو د نصاب په اندازه سامان د تجارت ورسره ؤ هم زکات پر فرض دی. عالمګيري

❺مسئله: که د يو چا سره سره زر، سپين زر، يا د تجارت مال، او نغدې ګډې وډې ورسره وې ټوله دي سره جمع کړي که نصاب ته ورسيدې زکوة پر سته که



www.jamairahmani.org

ونه رسيدي نسته.

❻مسئله: د زکات اداء کول هغه وخت واجب دي کله چي پر نصاب باندي هجري او اسلامي کال تېر سي. شامي

❼مسئله: د کال پر ختمېدو باندي زکات فرض دی که څه هم د دغه مال يو څه حصه يوه ورځ مخکي په ملکيت کښي راغلې وي. البحرالرائق

❽مسئله: دکال په مابينځ کښي که نصاب کم سو هيڅ فرق نه راوړي په دې شرط چي د کال په اخير کښي به نصاب پوره وي. موسوعة

❾مسئله: د کال تر پوره کېدو مخکي که يو چا ټوله سرمايه وخوړله نو زکوة نه دی باندي لازم داچي بيا يې کله نصاب دوهم واري پيدا کړی د هغه وخته څخه دي دکال حساب شروع کوي. شامي



www.jamairahmani.org

۱۰ مسئله: دين مؤجل (ځنډنئ) مانع دزكات څخه نه دى يعني كه پر يوه سړي مهر باندي وي او دى يې عزم او پخه اراده د اداء كيدلو نه لري نو داسي مهر او ولور د زكات د اداء كولو څخه مانع نه دى او كه يې چيري اراده پخه وه او عزم يې وو د اداء كولو نو بيا هغه مهر او ولور د سرمايي څخه جلا كيږي او مانع دزكات دى.

والصحيح ان الدين المؤجل غيرمانع. شامي ج۲ ص ۲۹۱

۱۱ مسئله: پر كوم مال چي زكات فرض سي، نو د هغه مال دوه نيم فيصده په زكات كښي اداء كول يا د هغه قيمت اداء كول لازم دى يعني څلوېښتمه حصه.

۱۲ مسئله: قيمت د سامان تجارت هغه معتبر دى چي كوم وخت كال پوره سو او هغه قيمت او نرخ په بازار كښي عام وُ او چلېدى، يعني په هر طرف كښي چي د فقراؤ نفع زياته وي. البحرالرائق

۱۳ مسئله: د سرو زرو او سپينو زرو په لوښو زيوراتو لكه هار، غاړكى، والي، بنګړي، باهوكانو ګوتمى،



www.jamairahmani.org

بټنان او تنیی، وغیره په دغه ټولو شیانو کي زکات فرض دی که په استعمال کښي وي که نه وي. عالمګیري

⑭ مسئله: که سره زر او سپین زر خالص نه وي بلکه کوټ په کښي وي نو اعتبار غلبې او ډېروالي ته دی که زر ډېر وه کوټ یې لږ وه زکات فرض دی او که کوټ ډېر وه زر لږ وه نو زکات نسته او که سره برابر وه زکات احتیاطًا فرض دی. موسوعة

⑮ مسئله: پر دوکان، سرای، جایداد، موټر، وسله، یخچال، فریج، فرنیچر وغیره پر دغو شیانو زکات نه دی فرض لیکن که یو څوک د دغه شیانو تجارت کوي رانیسي او خرڅوي یې نو د دغه شیانو پر پیسو او قیمت باندي د مال تجارت په حیثیت سره زکات فرض دی همدا شان د جایداد پر پیداوار باندي زکات سته. شامی

⑯ مسئله: دوکان، سرای، موټر یې په کرایه ورکړی



www.jamairahmani.org

دی پر دې شیانو خو زکات نسته د دغو شیانو پر امدني یعني کرایې او ګټې باندي زکات سته. موسوعة

⓱مسئله: د کارخانې پر ماشینانو او دستګاؤ باندي هم زکات نسته لیکن د دغو ماشینانو څخه چي کوم مال جوړیږي او تیاریږي پر هغو زکات سته. موسوعة

⓲مسئله : یو کس نصاب دروپو لري لیکن قرض او پور پر باندي دی داسي کس دي اول وار هغه پور د خپله ماله وباسي که وروسته تر جلا کېدو د قرض دئ د نصاب مالک ؤ خو زکات پر سته که نه ؤ نسته باندي. شامي

⓳مسئله: هغه قرض چي دهغه د وصولولو امید نه وي یعني پوره وړی انکار کوي او دمال د مالک سره شاهدان هم نسته نو ددغه قرض تر وصول کولو مخکښي ددغه قرض زکات نه دی لازم او تر وصول



www.jamairahmani.org

کولو وروسته د تیرو کلونو زکات ایستل یي هم لازم نه دی . احسن الفتاوی ص ۲۶۶

۲۰ مسئله : په ګرو کښي د ایښوول سوي شي زکات نه پر قرض خواه باندي سته او نه پر خرڅوونکي باندي سته او نه هم پر مالک د مال یعني د غه د ګرو سوي شي پر مالک باندي سته نه اوس او نه وروسته ولا علی المرتهن لعدم ملک الرقبة ولا علی الراهن لعدم الید.

شامي ج ۲ص ۲۶۳

۲۱ مسئله :پر جواهراتو باندي زکات نسته لکه ملغلري، الماس، یاقوت، مرجان لیکن که د دغو شیانو کاروبار او تجارت کوي، نو زکات پر فرض دی. عالمګیري

۲۲ مسئله : د نابالغه او لیوني پر مال زکات نسته.
موسوعة

۲۳ مسئله : مال په یوه ښار کښي دی مالک په بل ښار



www.jamairahmani.org

کښې دی د زکات  په اداء کولو کښې اعتبار د هغه ځای وقیمت ته دی چیري چي مال وي د مالک د ځای اعتبار نسته. البحرالرآئق

٢٤مسئله:  د زکات د اداء کولو نیت په زړه سره ضروري دی په خوله یې ویل نه دي ضروري. موسوعة

٢٥مسئله: یو چا د پیسو ورکولو په وخت کښې نیت د زکات نه درلودی وروسته یې خیال سو چي په زکات کښې یې شمار کړي دغه نیت خو یې صحیح دی تر هغه وخته چي هغه مال د هغه کس په ملکیت کښې موجود وي، او که هغه مال او روپی د هغه د ملکیته څخه  وتلي وي اوس دی نیت کوي دا نیت نه دی صحیح د شروع څخه به دی بیا زکات اداء کوي. شامي

٢٦مسئله:  یو چا په نیت د زکات یو څه روپی د خپلي سرمایې څخه را جلا کړې بس دغه نیت یې کافي دی



www.jamairahmani.org

بیا چي یې دی مستحق ته ورکوي هغه وخت نیت د زکات نه غواړي، لیکن د غه جلا کړي روپی که چیري ضایع سوې غلا سوې یا ورکي سوې زکات نه سو اداء. البحرالرائق

❷❼مسئله : پر یو چا ستا روپی باندي دي او بیا دي ور وبخښلې په د غه بخښنه سره یې زکات نه اداء کیږي ښه صورت یې دادی چي څو مره زکات د د غه قرض د روپو کیږي هغه ودې پوره وړي ته حواله کړه او بیا یې بېرته د خپل قرض په بدل کښي ځیني واخله. دزکات مسائل او موسوعة

## د زکات مستحقین

❶مسئله: د چا سره چي سره زر، سپین زر، نغدي، مال تجارت او د ضرورت څخه زائد د استعمال دومره شیان وي چي د هغو قیمت و نصاب ته رسیږي داسي کس ته شرعًا مالداره او سرمایه داره ویل کیږي زکات



www.jamairahmani.org

ورکول جائز نه دی. موسوعة

❷مسئله: د چا سره چي د يوه نصاب په اندازه مال نه وي هغه ته شرعًا فقير ويل کېږي داسي کسانو ته زکات ورکول جائز دی.شامي

❸مسئله: هغه لوښي، او سامانونه چي کله کله يې ضرورت د استعمال پېښېږي لکه د واده په مراسمو کښي يا د يو غم پر موقع دغه قسم سامان ته تر ضرورت زيات سامان ويل کېږي، همدغه شان ټيپ، ټي وي، وي سي آر، ډش، دغه شيان هم تر ضرورت زيات ګڼل کېږي د هر هغه چا سره چي دغه سامانونه وي او قيمت يې نصاب ته رسېږي داسي کس ته هم زکات ورکول نه دی روا. موسوعة

❹مسئله: د شپې د تېرولو ځای يعني سرای، د اغوستلو جامې، کتابونه، ماشينونه، د حفاظت وسله، موټر، سايکل، دغه ټوله شيان په ضرورت کښي داخل



www.jamairahmani.org

دي هر څو مره قيمت چي يې وي که د دغو کسانو سره د دغه شيانو څخه علاوه د نصاب په اندازه روپۍ وي نو زکات اخيستل ورته نه دی روا .البحرالرآئق دزکات مسائل

❺مسئله: يو کس مکان او دوکان او موټر لري دا يې په کرايه ورکړي دي يا بله امدني او ذريعه لري ليکن اهل او اولاد يې دومره دي چي سمه ګذاره يې بيا هم نه کېږي داسي کس ته زکات ورکول جائز دی په دې شرط چي دنصاب خاوند به نه وي. عالمګيري

❻مسئله: پر يو چا پور باندي دی که چيري هغه پور د ده د سرمايې څخه جلا کړه سي، نو هم ورته يو نصاب روپۍ پاتېږي، نو داسي کس ته هم زکات اخيستل نه دی روا، او که تر نصاب کم ورته پاتېدلی زکات اخيستل ورته روا دی تر هغه وخته چي صاحب د غناء جوړېږي. شامي



www.jamairahmani.org

⑦مسئله: د سفر په دوران کښې د يو چا څخه روپۍ ختمې سوې يا غلا سولې تر څه وخته چې دغه کس کورته راځي زکات اخيستل ورته روا دي، خوبياهم افضل كار د دغه كس لپاره دا دی چې په قرض روپۍ واخلي. موسوعة دزكات مسائل

⑧مسئله: دنابالغه ماشومانو پلار كه چيري موړ وي نو د ده ماشومانو ته زكات وركول نه دي روا او كه يې پلار مسكين وو يا نه وو يا يې مور سرمايه داره وه په دغه صورتو كښې دغه ماشومانو ته زكات وركول روا دي. البحرالرائق

⑨مسئله: كه نا بالغه ماشومان بلوغ ته ورسېده دوی خپله شی نه لري ليكن پلار يې موړ دی نو دغه اولادو ته يې زكات اخيستل روا دي. عالمګيري

⑩مسئله: ددنيا داره كس پلار كه چيري مسكين وي



www.jamairahmani.org

زکات اخیستل ورته روا دی. شامي

⓫مسئله : همدغه شان که د دولتمند سړي ښځه مسکینه وي نو دغه ماينې ته يې زکوة ورکول روا دی. موسوعة

⓬مسئله: سید ته زکات ورکول نه دی روا او سیدان هغه خلګو ته وايي چې د حضرت عليؓ یا حضرت عباسؓ یا حضرت حارثؓ و یا د حضرت جعفرؓ یا د حضرت عقیلؓ د اولادې ځخه وي، د دغو ځخه ماسوا د نورو صحابه کرامو ؓ اولادې ته سید نه ویل کیږي. شامي

⓭مسئله: زکٰوة، سرسایه، نذر، کفاره، او عشر کافر ته ورکول نه دی روا نو رعام خیراتونه ورکول روا دي لکه سیک، یا هندوته. البحرالرآئق

⓮مسئله: یوه فقیر ته دومره اندازه مال ورکول په



www.jamairahmani.org

کار دی چې د ده او د ده د اهل او اولاد لپاره کفایت وکړي او بیا فقر ته محتاجه نه سي په هغه ورځ. عالمګیري

⑮مسئله: یوه فقیر ته یکمشت اوپر یوه ځای دومره زکات ورکول چې د زکات ونصاب ته ورسېږي مکروه دی البته که چا ورکړی زکات یې صحیح دی، لیکن که چیري هغه کس چې ته زکات ورکوي مقروضه او پوره وړی ؤ یا عیال داره وو، نو بیا دومره اندازه زکات ورکول ورته روا دی که یې چیري پر اولادو سره تقسیم کړي هر یو صاحب د نصاب نسي جوړ. موسوعة

⑯مسئله: یو څوک را ولاړ سو بل کس یې د زکات ورکولو وکیل جوړ کړی چې دغه پیسې وخلګو ته په زکات کښې ورکوه دغه وکیل دا د زکات مال خپلو بالغو مستحقینو اولادو ته ورکولای سي، همدا شان خپلي ښځي ته یې هم ورکولای سي، او که وکیل خپله مستحق ؤ نو خپل نا بالغه اولاد ته خو یې ورکولای



www.jamairahmani.org

سي خپله يې نسي اخيستلاى بېله اجازې د موكل.
شامي

١٧مسئله: خپل زكات انسان وخپل مور او پلار ته يا انا او نيكه ته نه سي وركولاى، همداشان خپل زكات وخپلو اولادو او د خپلو اولادو و اولادو ته يعني لمسيان اولمسيانى ته هم نسي وركولاى، كه يې وركړي زكات يې نه دى اداء سوى. شامي موسوعه

١٨مسئله: خاوند او ښځه يو بل ته زكات نسي وركولاى كه يې سره وركړى زكات يې نه دى اداء. شامي عالمګيري

١٩مسئله: د يوه ښاره څخه زكات انتقالول وبل ښار ته مكروه دى، ليكن كه په بل ښار كي د ده قريبان مستحقين وي يا د بل ښار خلګ زيات محتاجه وي يا زيات ديندار وي، يا په بل ښار كي ديني مدرسې او د هغو متعلمين وي يا مجاهدين د اسلام وي او د زكات



www.jamairahmani.org

مستحقين وي نو بيا هغو ته زكات استول جائز دي او
ثواب هم زيات پکښې دى. (البحرالرائق وعالمګيري )

٢٠ مسئله: د مزدور يا د مامور د مزدورى په عوض
كي زكوة وركول نه دى روا او نه صحيح دى البته وخپل
مزدورانو ته يو شى په ډول د انعام وركول او په زړه
كښي نيت د زكات كول جائز دى. (دزكات مسائل، موسوعة )

٢١ مسئله: مسجد، مدرسه، شفاخانه، د اوبو بمبې د
دغو شيانو جوړول د زكات په پيسو نه دى روا
همدا شان د مړي كفن او د هغه قرض اداء كول دا شيان
د زكات په پيسو سره جوړول يا اداء كول نه دي روا،
ځكه چي په زكات كي تمليک شرط دى. (شامي)

٢٢ مسئله: د ديني مدرسو شاګردانو ته او طلبه
كرامو ته ياو محتاجه علماء كرامو ته زكوة وركول
زيات ثواب لري ځكه چي په دې كښي د زكوة د ثواب



www.jamairahmani.org

ځخه ماسوا د دين په تبيلغ او اشاعت کښي هم د ده برخه او ثواب سته.(موسوعة)

٢٣مسئله: د سرو زرو نصاب اووه نيمي تولې دی چي تقريباً اوه تيانيم ګرامه کيږي.

او د سپينو زرو نصاب دوه پنځوس نيمي تولې دی چي تقريباً شپږ سوه دوولس ګرامه کيږي يوه توله يوولس نيم ګرامه ده.(دزکات مسائل موسوعة)

٢٤مسئله: اودا هم جائز دي چي د زکوة روپی دي په تهوله کال کښي لږ لږ د خپل وسعت مطابق ورکړه سي البته هر وار به د زکوة نيت کوي .(عالمګيري)

٢٥مسئله: يو کس بل څوک د زکوة د اداء کولو وکيل جوړ کړی او وکيل ته يې د پيسو ورکولو په وخت کښي نيت د زکوة وکړی، وکيل چي يي کله مستحق ته ورکوی نيت دزکوة يې ونه کړی هم زکوة اداء کېږي.

(شامي)



www.jamairahmani.org

٢٦ مسئله: د بل چا د مال زکوة بېله اجازې د مالکه اداء کول نه دی صحیح وروسته که هغه اجازه ورکړي هم نه اداء کېږي، او کومي روپی چي يې مستحق ته ورکړي دي هغه هم بيا نه سي ځيني اخيستلای.

(عالمگيري)

٢٧ مسئله: پر مال چي کال پوره سو نور د زکوة په اداء کولو کښې ځنډ نه دی پکار او که يې تر راتلونکي کاله پوري نه کړی اداء ګناهګاره دی ليکن زکوة بيا هم د ده د ذمې څخه نه دی ساقط. (موسوعة)



www.jamairahmani.org